
UK Health Security Agency

NHS



د COVID-19 د واکسینو تطبیق

# د 5 تر 11 کلنو ماشومانو د والدینو لپاره لارښود



# NHS له 5 تر 11 کلنو ماشومانو لپاره د کروناویروس (COVID-19) واکسین وړاندې کوي.

متخصصینو د 5 تر 11 کلنو ماشومانو والدینو ته سپارښتنې کړې چې هغوی ته باید د دې فرصت ورکړل شي چې خپل ماشومان واکسین کړي.

د واکسینو تطبیق په ځانګړي ډول هغو ماشومانو ته ډېر مهم دی چې روغتیایي شرایط یې کولی شي دوی د COVID-19 له جدي ګوښ سره مخ کړي، نو په دې صورت کې د واکسینو ګټې ډېرې دي.



## COVID-19 یا کروناویروس څه شی دی؟

د ډېرې ماشومانو لپاره COVID-19 یوه ضعیفه ناروغي ده چې کېدی شي د ماشوم د شوونځي یو څو ورځې ونیسي، لیکن په ندرت سره دا ناروغي سختېږي هم. د ډېرو کمو ماشومانو لپاره کېدی شي دا ناروغي شدیده شي او د اوږدې مودې لپاره دوام وکړي.

اوسنی نوعه یې چې Omicron نومېږي، په ماشومانو کې ډېره ضعیفه ده. دا معلومه شوې ده چې د ناروغۍ راتلونکې نوعې به هم همداسې ضعیفه وي.

## کوم ماشومان د کروناویروس (COVID-19) ناروغۍ له جدي ګواښ سره مخ دي؟

په دې کې هغه کسان شامل دي چې مشخص روغتیایي شرایط لري، او یا هغه ماشومان چې د بدن دفاعي سیستم یې کمزوری دی او یا له داسې کسانو سره ژوند کې د بدن دفاعي سیستم یې کمزوری وي.

دا ماشومان باید له مخکې د واکسینو د تطبیق لپاره رابلل شوي وي.

د روغتیایي شرایطو په هکله د نورو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره کولی شئ دا لارښود ولولئ او یا له خپل GP سره خبرې وکړئ:
www.gov.uk/government/publications/covid-19-vaccination-resources-for-children-aged-5-to-11-years.

## آیا واکسین کولی شي زما ماشوم وساتي؟

د COVID-19 واکسین به د COVID-19 په ناروغۍ باندې ستاسو د ماشوم د اخته کېدو احتمال راکم کړي. تر هغې چې د ماشوم بدن یو څه معافیت ترلاسه کړي، کېدی شي یو څو اونۍ وخت ونیسي.

د واکسینو دوه دوزه باید ستاسو ماشوم ته د شدیدې ناروغۍ پر وړاندې اوږدمهاله معافیت ورکړي – په شمول د هر ډول راتلونکو مجونو او انواعو.

ستاسو ماشوم هم باید د ځینې ضعیفه علایمو پر وړاندې معافیت ولري. د Omicron پر وړاندې معافیت باید د څو اونیو لپاره دوام وکړي.

لکه نور درمل، هېڅ ډول واکسین په بشپړ ډول مؤثر نه دي – ځینې ماشوم کېدی شي د واکسین د تطبیق سره سره په COVID-19 اخته شي، لیکن ناروغي به یې ډېره شدیده نه وي.

نور معلومات کولی شئ په NHS.UK کې ولولئ.

## د واکسینو په هکله

ماشومانو ته به د Pfizer COVID-19 واکسین ورکړل شي. هر واکسین د ماشومانو او لویانو لپاره د هغوی د واکسینو دریم دوز دی. هغه ماشومان چې کېدی شي په شدید ډول په COVID-19 ناروغۍ اخته شي، باید د واکسینو 2 دوزه ترلاسه کړي چې منځ کې یې 8 اونۍ واټن موجود وي. نورو ټولو ماشومانو ته به د واکسینو دوه دوزه تطبیق شي چې په منځ کې به 12 اونۍ واټن ولري.

دا واکسین ټول ټېسټ شوي دي ترخو ډاډ حاصل شي چې د امکان تر حده خوندي دي. تاسو کولی شئ د Pfizer لارښود په دې وېبسایټ کې ولولئ:
https://www.medicines.org.uk/emc/product/13134/pil

## معمول جانبي عوارض

لکه نور درمل، واکسین هم جانبي عوارض لري. خوی ډېری دا جانبي عوارض ضعیف او لنډمهاله دي او په هر چا کې نه پیدا کېږي. معمول جانبي عوارض باید یوازې له یوې تر دوو ورځو پورې دوام وکړي. شاید Pfizer واکسین د لومړي دوز په پرتله، په دویم دوز کې ډېر جانبي عوارض ولري.

**تر ټولو معمول جانبي عوارض په لاندې ډول دي:**

- په څنګل کې د پیچکارۍ په ساحه کې درد، دروندوالی او بخار – شاید دا د واکسینو په 1 او 2 ورځو کې نسبتا سخت وي. شاید دا د واکسینو په 1 یا 2 ورځو کې نسبتا شدید وي.
- د ستړیا احساس
- سردرد
- معمول دردونه یا لکه د ضعیفې تبې علایم

ستاسو ماشوم باید استراحت وکړي، او که چېرې دوی په ښوونځي کې وي، باید یوه یا دوې ورځې رخصت واخلي.

تاسو کولی شئ هغوی ته پرستامول ورکړئ (د قطعي پر مخ د دوز لارښوونې تعقیب کړئ) ترخو له هغوی سره مرسته وکړئ چې روغ شي. تاسو کولی شئ د ماشومانو لپاره د پرستامول د مصرف په هکله نور معلومات په www.nhs.uk/medicines/paracetamol-for-children وېبسایټ کې پیدا کړئ.

که څه هم د تبې احساس په لومړیو 2 یا 3 ورځو کې غیر معمول نه دی، خو د بدن لوړ حرارت غیر معمول دی او کېدی شي په دې مانا وي چې تاسو COVID-19 یا کومه بله ناروغي لرئ.


له واکسینو وروسته عالیم معمولا له یوې اونۍ څخه کم دوام کوي. که چېرې مو د ماشوم علایم ورځ په ورځ بدتره کېدل او یا مو اندېښنه لرله، کولی شئ په 111 شمېره NHS ته زنګ ووهئ.

## په کمه کچه معمول جانبي عوارض

د نړۍ په کچه، د COVID-19 د واکسینو له تطبیق وروسته د زړه د پړسوب پېښې (چې مایوکارډیټس یا پریکارډیټس ورته ویل کېږي) په ډېره کمه کچه راپور شوي دي. ډېری دا خلک له استراحت او معمولي درملنې وروسته بیرته روغ شوي دي.

په متحده ایالاتو کې د ماشومانو د واکسینو له تطبیق وروسته د جانبي عوارضو پېښې معمولا په کمه اندازه رپوټ شوي دي.  تر اوسه د واکسینو په هر یو میلیون دوزونو کې، یواځې له 1 تر 2 د میوکارډیټس پېښې رپوټ شوي دي.

که چېرې مو ماشوم ته لاندې موارد پېښ شول، ژر تر ژره د روغتیایي مشاورې غوښتنه وکړئ:











که چېرې مو د ماشوم په هکله اندېښنه لرئ نو له NHS 111 سره اړیکه ونیسئ (او یا 18001 111 شمېرې ته زنګ ووهئ) او یا هم د 111 ویبسایټ ته مراجعه وکړئ.

ځان ډاډه کړئ چې هغوی ته مو د خپل ماشوم د واکسینو په هکله ټولې خبرې ویلې دي، او یا هم د ماشوم د واکسینو کارت ورته ښکاره کړئ.



Don't forget your
COVID-19 vaccination

NHS

Make sure you keep this record card in your purse or wallet

For more information on the COVID-19 vaccination or what to do after your vaccination, see www.nhs.uk/covidvaccine

COVID-19 immunisation
Protect yourself.


Name

1 Name of vaccine:
Batch no: Date vaccine given:

Don't forget to attend your appointment to have your second dose of vaccine. You will have the best protection after two doses.
**Second appointment date:**

2 Name of vaccine:
Batch no: Date vaccine given:

Public Health England gateway number: 2020311. Product code: COV2020311

که چېرې فکر کوئ چې هغوی د واکسینو له امله له جدي جانبي عوارضو سره مخ شوي دي، کولی شئ چې د Coronavirus Yellow Card د طرحې له لارې هغه رپوټ کړئ. د جزئیاتو لپاره 7 مه پاڼه وګورئ.

## څه وخت کولی شم ماشوم ته مې واکسین تطبیق کړم؟

والدین به د خپلو ماشومانو د واکسین کولو لپاره معلومات او د ملاقات وخت ترلاسه کړي. دا ملاقاتونه به له اپریل څخه د Easter تر رخصتیو پورې د لاسرسي وړ وي، نور ملاقاتونه به بیا وروسته د لاسرسي وړ شي.

## څنګه کولی شئ د ملاقات وخت ونیسئ؟

هغه معلومات چې تاسو ته درکول کېږي، په هغې کې به دا هم ذکر شوي وي چې څنګه کولی شئ د ماشوم لپاره مو د ملاقات وخت ونیسئ.

تاسو کولی شئ د ملاقات د وخت د نیولو لپاره د بوک کولو له ملي خدماتو سره په 119 شمېره اړیکه ونیسئ.

تاسو مو باید ماشوم د واکسینو لپاره یوه محلي درملتونه یا د واکسینو مرکز ته بوځئ.

## له هغې وروسته به څه کوو

کله مو چې ماشوم خپله لومړنۍ پیچکاري ترلاسه کړه، تاسو باید د ثبت کارت ترلاسه کړئ.

تاسو باید دا کارت له ځان سره وساتئ او د ماشوم د راتلونکي ملاقات په وخت کې یې له ځان سره راوړئ. دا به له 8 تر 12 اونیو وخت ونیسئ.

که څه هم د واکسینو لومړی دوز به مو ماشوم ته کافي معافیت ورکړي، لیکن هغوی به دوهم دوز ته هم اړتیا ولري ترڅو اوږدمهاله معافیت ترلاسه کړي.

د هغوی کارت له ځان سره خوندي وساتئ او ماشوم د دوهمې پیچکارۍ د ترلاسه کولو په هکله مو ځان ډاډه کړئ.

## که چېرې مو ماشوم د ملاقات په وخت کې روغ نه وي نو څه به کوو

که چېرې مو ماشوم قرنطین کړی وي او یا یې د COVID-19 د معاینې پایلې ته منتظر وئ، نو باید په ملاقات کې ګډون و نه کړئ. که چېرې مو د ماشوم د COVID-19 د معاینې پایله مثبت وي، تاسو باید د لومړي یا دوهم واکسین د ترلاسه کولو لپاره د ماشوم د معاینې له نېټې څخه تر 12 اونیو پورې منتظر پاتې شئ.

## له واکسینو وروسته

تاسو او ستاسو ماشوم باید د اوسنیو لارښوونو په تطبیقولو سره لا هم هڅه وکړئ چې له COVID-19 ناروغۍ څخه خوندي پاتې شئ.

## نور معلومات

د Yellow Card طرحې وېبسایټ هغه ځای دی چې تاسو کولی شئ په هغې کې د واکسینو جانبي عوارض رپوټ کړئ.

همدارنګه تاسو کولی شئ 0800 731 6789 شمېرې ته زنګ ووهئ. تاسو کولی شئ خپل جانبي عوارض مو د لاندې QR کوډ څخه په استفادې سره په وېبسایټ کې رپوټ کړئ، او یا کولی شئ د Yellow Card اپلیکېشن ډونلوډ کړئ.

د نورو جزئیاتو لپاره کولی شئ د واکسینو د محصول معلوماتي لارښود ولولئ، (4 مه پاڼه وګورئ) په شمول د احتمالي جانبي عوارضو، د Coronavirus Yellow Card په وېبسایټ کې.

**coronavirus-yellowcard.
mhra.gov.uk**

د کروناویروس د علایمو په هکله نور معلومات په NHS.UK وېبسایټ کې موجود دي. که چېرې نه شئ کولی د NHS وېبسایټ استفاده کړئ، کولی شئ په وړیا ډول NHS 111 ته زنګ ووهئ.





© Crown copyright 2022. 1p 500K MAR 2022. (APS) Version 1.
UK Health Security Agency gateway number: 20211218.
Product code: C22511PAS Pashto.

This free leaflet is also available in braille, BSL, as an audio file and translated into 28 languages can be ordered or downloaded from: www.healthpublications.gov.uk, by calling: 0300 123 1002 or by textphone on: 0300 123 1003 (8am to 6pm, Monday to Friday).